


# اباډي اوونيزه
هفته نامه آبادي

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ګڼه: ۴۰ | مسلسل نمبر: ۱۳۰ | چهارشنبه، د رجب المرجب ۱۷مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## ملي تدارکاتو کمېسيون د شاوخوا ۱۸،۵ ميليارده افغانيو په لګښت ۲۹ پروژې منظورې کړې



۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: امن افغانستان د ټولو لپاره له اقتصادي او سياسي پلوه لوی فرصت ګڼل کېږي، هېڅوک بايد فرصتونه په تهديدونو بدل نه کړي



۲مه صفحه

## د سيمنټو صنعت؛ افغانستان د خودکفا کېدو پر لوري اساسي ګامونه اخلي



۵مه صفحه




اقتصادي او سوداګريز پرمختګ، نړيوال مارکيټ ته لاسرسی، د ټولې نړۍ او په ځانګړي ډول د سيمې له هېوادونو سره د سوداګريزو اړيکو پراختيا د پرمختللي افغانستان ليدلوری دی. که چيرې افغانستان، پاکستان او د منځنۍ آسيا هېوادونه د ځمکني ترانزيټ او سوداګرۍ د چټک پرمختګ په اړه فکر وکړي، ډېره ګټه به ترلاسه کړي. د ځمکني ترانزيټ له لارې سوداګري به د سيمې چټکې ودې ته لاره هواره کړي. افغانستان او پاکستان کولای شي چې د منځنۍ آسيا غني سرچينې د سويلي آسيا هېوادونو ته ولېږدوي او په دې برخه کې نړيوالې پانګونې ته لاره هواره کړي. خو له بده مرغه پاکستان په دې برخه کې ناغېړي کوي، وخت په وخت له اقتصادي او سوداګريزو اړيکو څخه د سياسي فشار د الې په توګه ګټه اخلي. سره له دې چې په نړيوالو قوانينو کې دا ډول چلند هېڅ حقوقي اړخ نه لري. په نړيوالو فورمونو کې په وچه کې ايسار هېوادونو ستونزو ته اشاره شوې ده. له همدې امله نړيوال بنسټونه هڅې کوي، چې په وچه کې راګير هېوادونو د ستونزو په تړاو اجماع رامنځته او پای کې د دې هېوادونو اقتصادي پرمختګ تضمين کړي. خو لا هم پر دې نه دي توانيدلي او ډېر هغه هېوادونه چې سمندري لارې لري، د هغو هېوادونو پر وړاندې ستونزې راولاړوي چې هغه دغه ډول لارې ته لاسرسی نه لري. همدا لامل دی چې پاکستان له کوم موجه دليل پرته د افغانستان پر وړاندې خپلې سوداګريزې لارې تړي. دا دی نږدې شاوخوا درې مياشتې کېږي چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ سوداګري او ترانزيټ په بشپړه توګه دريدلي او په ډيورنډ فرضي کرښه پرتې ټولې سوداګريزې لارې تړلې دي. د دې لارو په تړل کېدو سره دواړو لورو ته ميليونونه ډالر زيان اوښتی دی. خو ډېر زيان بيا پاکستان ته اوښتی او لامل يې دادی چې له يوه لوري يې افغانستان ته صادرات دريدلي او له بل لوري يې منځنۍ اسيا ته ترانزيټ نه کيږي. د دې ستونزې د هوارې په موخه اوس د دواړو هېوادونو سوداګرۍ برخې مشرانو په يوې انلاين غونډه کې د دوه اړخيزې سوداګرۍ د پراختيا او د لارو د بيا پرانېستل کېدو په تړاو خبرې کړې دي. په دې غونډه کې د دواړو هېوادونو څخه د شپږ شپږ غړو ګډه ۱۲ کسيزه کمېټه جوړه شوې. دغه کمېټه به د سوداګريزې راکړې ورکړې، د بيا پيل په تړاو بحثونه وکړي. که کومه حل لاره پيدا شي، نو دا به د دواړو هېوادونو د سوداګرۍ او په ټوله کې د اقتصادي پرمختګ پر وړاندې پراته خنډونه له منځه يوسي. خو دا هله شونې ده چې د کمېټې خبرې ومنل شي، حکومتونه يې ملاتړ وکړي، په دې برخه کې واقعي او رښتني ګامونه پورته کړي. د سوداګريزو لارو له بنديدو سره سم د اسلامي امارت په هلو ځلو د افغانستان د سوداګرۍ له پاره د پاکستان پر ځای نورې بديلې لارې موندلې او د افغانستان سوداګري د پخوا په شان روانه ده. د روان ۱۴۰۴ لمريز کال په لومړيو ۹ مياشتو کې يوازې له هرات څخه ۲۲ زره او ۲۴ ټنه تازه مېوې صادرې شوې دي. د افغانستان واردات هم په عادي ډول روان دي او د توکو په بيو کې هېڅ لوړوالی نه ليدل کيږي. ولې بيا هم پاکستان د افغانستان د سوداګرۍ له پاره مهم دی، خو که چېرې د تېر په څېر سوداګري سياسي کوي او پر مټ يې غواړي، خپلې غوښتنې په نورو ومني، دا بيا ناشونې ده. که په واقعي ډول غواړي له افغانستان سره سوداګري او له دې لارې ترانزيټ ترسره کړي، نو بيا دې لارې د افغانانو پر مخ په هر ډول شرايطو کې پرانيستې وساتي، په دې سره به دواړه هېوادونه په اقتصادي لحاظ پرمختګ وکړي.

# ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۱۸,۵ میلیارده افغانیو په لګښت ۲۹ پروژې منظورې کړې

د رياســتالوزراء اقتصـادي مرســتيال محترم ملا عبدالغنــي بــرادر اخوند په مشرۍ د مــلي تدارکاتو کمېســيون نوبتي غونـډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د مرغومي مياشتې په لسمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته له اجنډا سره سم ۴۴ پــروژې د منظورۍ لپــاره وړاندې شــوې. له بحث وروسته د ۱۸,۵ میلیارده افغانیو په ارزښت ۲۹ پروژې منظورې شــوې او په ۱۴ پروژو کې بيا يولړ تعديلونه راغلل. همــداراز د يوې پروژې په اړه ټاکل شــوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د پروژې د قيمت په اړه لــه ګټونکي شرکت سره مذاکره ترسره او راپور يې د ملي تدارکاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړي.



په منظور شوو او تعديل شوو پروژو کې په ورځنۍ ډول ۵۰۰۰ ټنه توليد ته د جبل السراج سيمنټو فابريکې د ظرفيت لوړول، په ورځنۍ ډول د ۵۰۰ ټنه اوسـپنې د پروسس په ظرفيت د حاجي ګک اوسپنې کان لپاره د فابريکــې جــوړول، د ۲۲۵ ميګاواټه پــه ظرفيت د حرارتي برېښــنا توليدي فابريکې جوړول، د نورستان ولايــت په کامديش، د زابل ولايــت په ارغنداب، د جوزجان ولايت پــه منګجک، د بغــلان ولايت په ډنډغورۍ، د کندهار ولايت په دامان، د سرپل ولايت په ســنچارک، د فارياب ولايت په پښــتون کوټ، د سمنګان ولايت په حضرت سلطان، د غور ولايت په شهرک، د ميدان وردګ ولايت په دايميرداد، د کونړ ولايــت په خــاص کونــړ او د بلخ ولايــت په البرز ولســواليو کې د عمومي روغتونونو جوړول، د پنجشير او دايکنډي ولايتونو د ۱۰۰ بستريزو روغتونونو او په مختلفو ولايتونو کې د برېښنا رسوني او توزيع پروژو د پاتې چارو بشپړول شامل دي.

منظور شوې پروژې د افغانســتان اسلامي امارت له لوري تمويلېږي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند: امن افغانستان د ټولو لپاره له اقتصادي او سیاسي پلوه لوی فرصت ګڼل کېږي، هېڅوک باید فرصتونه په تهدیدونو بدل نه کړي

د رياســتالوزراء اقتصـادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د مرغومي مياشتې په ۱۴مه نېټه په کندهار ولايت کې د الجامعة الاســلامية دارالعلوم کندهار د لومړۍ دورې فارغانو د دستاربندۍ په مراسمو کې ګډون وکړ. د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال اسلامي مدارس د ټولنې د اصلاح، د ديني علم، جهاد، فکري روزنې او د اسلامي نهضت مهم بنسټونه وبلل او ويې ويل، د افغانستان د شل کلن اشغال د پای ته رسولو لپاره د عام ولس ترڅنګ علماوو هم بې شمېره قرباني ورکړې او د همدوی د قربانيو له امله نن په هېواد کې اسلامي نظام حاکم شوی. محترم ملا صاحب پر علماوو غږ وکــړ، چې له ديني حکمت څخه په اســتفادې خلک په نرمه ژبه ســمې لارې ته راوبولي او هېڅکله ته هم د پېغور او په تېزه ژبه خبرې ونه کړي. محترم مــلا عبدالغني برادر اخونــد زياته کړه، اســلامي امارت د هېواد د هر اړخيز پرمختګ لپاره په سياسي او اقتصادي مشارکت باور لري، دا مشارکت د تېرو څلورو کلونو پرمهال پياوړی شوی او د علماوو، علمي شخصيتونو او مســلکي کارکوونکو د مشورو او نظريو پر اســاس ولاړ دی. د محــترم ملا صاحب په خبره، په افغانســتان کې په مقايســوي توګه اوسنی ســياسي قدرت د ټولو په نسبت ثابت او متعادل ساتل شوی، د نظام او حکومت په چوکاټ کې موازي سياسي جريانونــه، مخالف جهتونه او د ملي پرېکړو پر وړاندې تهديدوونکي اعمال له منځه تللي او له بلې خوا اداري مشارکت، اداري شفافيت، د اقتصادي زېربناوو جوړول، د عامه خدمتونو وړاندې کول او ملي رضايت لوړ شوی. محــترم ملا صاحب په ټولو هېوادونــو غږ وکړ چې په سيمه ييز او نړيوال فعال مشــارکت کې د افغانستان اسلامي امارت له بالقوه ظرفيت او پياوړې ارادې څخه

مناسبه ګټه واخلي. د هغه په خبره: «يو امن افغانستان د ټولو لپاره له اقتصادي او سياسي پلوه لوی فرصت ګڼل کېږي، هېڅوک بايد فرصتونه په تهديدونو بدل نه کړي.»د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکړ چې د اسلامي امارت له لوري به د هېچا حقوق او امانت ضايع نشي، ټول هېوادوال بايد د هېواد په امنيت، ابادۍ او بيارغونه کې د خپل حکومت ترڅنګ ودريږي. محترم ملا صاحب په پای کې د الجامعة الاسلامية دارالعلوم کندهار څخه ۱۰۰۰ فارغو شوو فاضلانو او د هغوی کورنيو ته مبارکي وويله او له هغوی يې وغوښتل چې په خپل علم عمل وکړي او خلکو ته يې وښيي.



## د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه جوړه شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د مرغومي مياشتې په نهمه نېټه په مرمرينه مانۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته د کابل ولايت په قره باغ ولسوالۍ کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. له بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د يادې طرحې بنه له عامه او خصوصي مشارکت څخه بديل شرعي عقد ته واړوي، مالي موډل يې د نوي شرعي عقد پر بنسټ اصلاح او راپور يې په ټاکلي وخت د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

همدارنګه په دې غونډه کې د حضوري چمن په تړاو د يوې معياري طرحې د وړاندې کولو په اړه هم بحث وشو.

# اخبــــار اقتصـــادی هفـــته

## افزایش تجارت افغانستان در سال ۲۰۲۵

تجـارت افغانسـتان در سـال ۲۰۲۵، با وجود مشـکل‌ها و محدودیت‌ها در مسـیرهای تجاری، نسـبت به سال گذشته افزایش یافته اسـت. بـه گفته‌ی مسـؤلان وزارت صنعت و تجارت، ارزش مجموعی صادرات و واردات کشور به ۱۳ میلیارد و ۹۳۲ میلیون دالر رسیده اسـت که از این میان، صادرات ۱ میلیارد و ۸۰۷ میلیون دالر و واردات ۱۲ میلیارد و ۱۲۵ میلیون دالر بوده است. این رقم نسبت به سال پار افزایش قابل توجهی را نشـان می‌دهد. وزارت صنعت و تجـارت، می‌گوید: «بیش ترین صادرات به کشـورهای هند، پاکسـتان، ازبیکسـتان، امارات متحده‌ی عربی، قزاقستان، ایران، ترکیه، چین، عراق و تاجکستان انجام شده و بیش‌تر قلم‌های صادراتی افغانستان شامل انجیر، کشمش، هنگ و تخم هنگ، زغال‌سنگ، پنبه، خسته‌باب، پسته، بادام، زعفران، رزدالو خشک، زیره، سیب، انگور، بادنجان رومی، ماش، نوشابه‌های انرژی‌زا، سنگ‌های معدنـی، قالین و گلیم، جلغوزه‌ی سـیاه و انار بوده اسـت.» آگاهان اقتصـادی می‌گویند که افزایش تجـارت، علی‌رغم محدودیت‌هـا و چالش‌های موجود، نشـان‌دهنده‌ی انعطاف پذیری بـازار و تـلاش برای گسـترش پیوندهـای تجاری افغانسـتان با کشـورهای همسایه و منطقه اسـت. برخی از بازرگانان نیز می‌گویند که پشـتیبانی از تولید داخلی، گسترش زیربناهای تجارتی و تسهیل روند سرمایه‌گذاری، نقش کلیدی در تداوم رشد صادرات و کاهش وابسـتگی به واردات خواهد داشـت. عبدالغفـار نظامـی، آگاه اقتصـادی، می‌افزاید: «متأسفانه صادرات و واردات با یک تفاوت بزرگ روبه‌رو است؛ زیرا صادرات در مقایسه با واردات کم‌تر است. به‌منظور افزایش صادرات، باید به تولیدات داخلی و صنایع دسـتی توجه شود و سهولت‌ها فراهم گردد.» در همین حال، وزارت فواید عامه می گوید که از ۵ تا ۱۱ جدی سال روان، بیش از ۱۷۰ هزار و ۶۰۰ تُن انتقالات از طریق راه‌های آهن انجام شده است که از این میان، ۳۲۰ تُن آن صادرات بوده اسـت. بـر پایه‌ی معلومات وزارت صنعـت و تجـارت، بیش‌ترین واردات افغانسـتان از کشـورهای ایران، امارات متحده‌ی عربی، پاکسـتان، چین، ترکمنستان، ازبیکسـتان، روسیه، قزاقسـتان، مالیزیا و هند صورت گرفته است که شـامل پرزه‌جات و ماشین‌آلات وسایط نقلیـه، تیل دیزل، تیل پـترول، آرد و گندم، ماشـین‌آلات و دسـتگاه‌های برقی، گاز طبیعی، منسـوجات کتان، سمنت، داروهای طبی و مواد خوراکی می‌باشد.

## تاکید ایران و افغانستان بر همکاری مشترک برای توسعه تصفیه‌خانه‌های نفت بلخ

سرقنسول ایران در بلخ، هنگام بازدید از تصفیه‌خانه نفت در بندر حیرتان گفته که کشورش آماده همکاری با تاجران افغان در بخش تصفیه نفت است. سجاد جعفری، معاون و اتشه اقتصادی سرقنسول ایران در بلخ گفت: «ما اکنون با دوستان خود که در بخش نفت، گاز و تصفیه‌خانه‌ها در ایران فعالیت دارند، در تماس هستیم تا به اینجا بیایند و ظرفیت‌ها را از نزدیک ببینند. ان‌شاءالله ما برای توسعه و پیشرفت تصفیه‌خانه های شمال افغانستان همکاری مشترک خواهیم داشت.» اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری بلخ، گفت: «ما از کشور دوست و همسایه‌مان ایران خواستار همکاری و حمایت شدیم. آن‌ها آمدند و از نزدیک دیدار کردند. به‌زودی هیاتی به ایران می‌رود و هیاتی هم از ایران به افغانستان می‌آید تا ماشین‌آلات مورد نیاز برای پیشرفت تصفیه‌خانه‌ها فراهم شود.» مسؤلان تصفیه خانه‌های نفت در بلخ می‌گویند که این ولایت ظرفیت تصفیه نفت خام آمو را دارد و باید این تولید داخلی برای پروسس به این تصفیه‌خانه‌ها داده شود. عبدالجمیل خاخئی، مسوول یکی از تصفیه‌خانه‌ها در بلخ گفت: «در مناطق قشقری و انگوت ظرفیت استخراج نفت خام حدود ۷۰۰ تُن است، اما نیاز افغانستان به پترول و دیزل پاک ممکن است به دو میلیون تُن برسد.» احمد جاوید عدالت، یکی از تاجران گفت: «خواست ما این است که حمایت شویم و نفت افغانستان به تصفیه‌خانه های داخلی سپرده شود. اگر به ما فرصت داده شود، می‌توانیم تولید خود را مطابق معیارهای امارت اسلامی در مدت کوتاه آماده کنیم.» از سوی دیگر، مسؤلان ریاست صنعت و تجارت بلخ می‌گویند که حمایت از تصفیه‌خانه‌های نفتی از اولویت های کاری آن‌ها است و در این بخش اطمینان همکاری می دهند. پیش از این، وزارت معادن و پترولیم گفته بود که هجده هزار تُن نفت خام آمو به یک شرکت برای تصفیه سپرده شده که ارزش آن به ۷۰۰ میلیون افغانی می‌رسد.

## افزایش فعالیت کارخانه‌های بازیافت مواد پلاستیکی در بلخ

در شهر مزارشریف، مرکز ولایت بلخ، ده‌ها کارخانه در بخش بازیافت زباله فعالیت دارند که پسماندها را به مواد قابل استفادهٔ دوباره تبدیل می‌کنند. بر پایه‌ی آمار اتاق صنایع و معادن بلخ، هم‌اکنون بیش از ۳۰ کارخانه در بخش‌های تولید کارتن، کاغذ، مصنوعات پلاستیکی و پنبه‌ی مصنوعی از طریق بازیافت پسماندها در این ولایت فعالیت می‌کنند. اتاق صنایع و معادن بلخ، گفت: «شرکت‌های فعال در بخش بازیافت متعهد هستند که اگر پسماند پلاستیک یا کاغذ



باشد، آن را جمع‌آوری کرده، پس از شست‌وشو و تصفیه، در تولید محصولات جدید به‌کار می‌برند.» یکی از این کارخانه ها با بازیافت بوتل‌های پلاستیکی، پنبه‌ی مصنوعی تولید می کند؛ محصولی که در صنایع مختلف کاربرد دارد و توانسته است برای صدها تن به‌طور مستقیم و غیرمستقیم فرصت شغلی ایجاد کند. خیرمحمد، مدیر یکی از کارخانه‌ها، نیز گفت: «این کار از جایی شروع می‌شود که فردی با ده افغانی یک بوتل آب می‌خرد و آن را دور می‌اندازد. در این فابریکه، افراد زیادی در انتقال، خرید، فروش و دیگر مراحل تولید، به صورت مستقیم مصروف کار هستند.» مسوولان این کارخانه ها می‌گویند در صورت فراهم‌سازی زمینه صادرات و حمایت دولت، می‌توانند ظرفیت تولید خود را افزایش داده و فعالیت های‌شان را در بخش‌های بیشتر گسترش دهند. در همین حال، مسؤلان ریاست صنعت و تجارت ولایت بلخ از ادامهٔ حمایت‌شان برای رشد تولید داخلی و توسعهٔ صنعت در این ولایت اطمینان می‌دهند. افزایش کارخانه‌های بازیافت در بلخ نشان می‌دهد که با مدیریت صحیح پسماندها، می‌توان هم از محیط زیست محافظت کرد و هم فرصت اشتغال و توسعهٔ پایدار ایجاد نمود.

## د هرات – خواف رېل پټلۍ له لارې هېواد ته د سمنټو واردات ډېر شوي

په هرات کې د روزنک تمځای مسوول ویلي، د هرات-خواف رېل پټلۍ له لارې افغانستان ته د سمنټو واردات د پام وړ زيات شوي او یوازې تېره میاشت شاوخوا ۴۳زره ټنه سمنټ هېواد ته وارد شوي دي. نوموړي ویلي، چې د هرات-خواف رېل پټلۍ له لارې افغانستان ته له ایران، چین، ترکیې او یو شمېر عربي هېوادونو څخه واردات ترسره کېږي. د هغه په خبره؛ په دغه تمځای کې سوداګرو ته مناسب امکانات برابر شوي؛ څو خپل توکي په اسانه توګه انتقال کړي. نوموړي زیاته کړې، چې د یاد تمځای له فعالېدو سره نه یوازې د سوداګرۍ بهیر چټک شوی؛ بلکې سلګونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.


ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اباډي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی




# د سیمنټو صنعت؛
## افغانستان د خودکفا کېدو پر لوري اساسي ګامونه اخلي

قیس احمد

سیمنټ د انسان په لاس جوړ شوي، هغه ساختماني توکي دي چې د استوګنیزو ودانیو، پلونو، بندونو، سړکونو او نورو بلابېلو زېربناوو د جوړښت لپاره استفاده کېږي. سیمنټ د چونې ډبرو، شګې، د اوسپنې له یوشمېر منرالونو او ځینو نورو کاني موادو د ترکیب او پروسس څخه لاسته راځي، چې د صنعت په پراختیا او خلکو ته د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې مهم رول لري.

په نړیواله کچه د سیمنټو صنعت ډېره پراختیا پیدا کړې او هغه هېوادونه چې په دې صنعت کې یې پرمختګ کړی، په زیاته اندازه عواید ترلاسه کوي. افغانستان هم د نړۍ له هغو هېوادونو څخه دی چې د سیمنټو د تولید لپاره په زیاته اندازه کاني مواد او د مصرف لوی بازار لري.

اسلامي امارت په افغانستان کې د دې مهم صنعت ارزښت او په بازار کې د هغه اړتیا درک کړې ده. په همدې موخه یې په هېواد کې د سیمنټو تولید پخوانۍ فابریکې (جبل السراج او غوري) بېرته فعالې کړې دي. اوسمهال د غوري سیمنټو فابریکه په ورځني ډول ۷۰۰ ټنه تولید لري، چې د درېیم فاز د چارو په بشپړېدو سره به دا کچه ۵۰۰۰ ټنه ته پورته شي. همدارنګه جبل السراج د سیمنټو تولیدي فابریکه اوسمهال په ورځني ډول ۸۰ ټنه تولید لري. د دې فابریکې د پراختیا تړون له یو قطري او دوه افغان شرکتونو سره شوی دی، چې په راتلونکي کې به یې ورځنی تولید ۵۰۰۰ ټنه او کلنی هغه به یې بیا یو نیم میلیون ټنو ته ورسېږي.

له دې ورهاخوا د کورنیو او بهرنیو پانګوالو پر مټ هم په بلابیلو ولایتونو کې د سیمنټو تولید د خلورو لویو فابریکو د جوړېدو چارې پیل شوې دي، چې په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. دا د لوګر د التمور، د کندهار د شورو اندام، د هرات د زنده جان او د جوزجان د یتیم تاق سیمنټو فابریکې دي. په دې کې په مجموعي ډول ۷۶۸ میلیون ډالر پانګونه شوې، چې په تخمیني ډول به د ورځې ۱۵۵۵۰ ټنه سیمنټو د تولید ظرفیت ولري.

د معلوماتو له مخې، افغانستان په کلني ډول شاوخوا ۷ میلیون ټنه سیمنټو ته اړتیا لري او اټکل دا دی، چې دا اړتیا به له دې هم زیاته شي. ځکه اوسمهال په ټول هېواد کې ساختماني فعالیتونه زیات شوي او ورځ تر بلې په دې سکتور کې د پانګونې او فعالیت هڅه زیاتېږي.

د پورته ذکر شوو فابریکو په جوړېدو او د تولیدي کچې په پراختیا سره به نه یوازې کورنۍ اړتیا پوره شي، بلکې افغانستان به وتوانېږي چې په کلني ډول په میلیونونو ټنه سیمنټ بهر ته هم صادر کړي. دا چاره به په وارداتي سیمنټو د افغانستان تکیه راکمه او له هېواد څخه به د اسعارو د وتلو مخنیوی وکړي.

د هېواد داخلي اړتیا په پام کې نیولو سره اسلامي امارت د پورته ذکر شوو فابریکو د جوړېدو او پراختیا چارې پیل کړې دي. د داخلي اړتیا په پوره کېدو سره به نه یوازې په سلګونو میلیون ډالر پانګه له هېواد څخه ونه وځي، بلکې دا به د هېواد په داخل کې اقتصادي څرخ په حرکت راولي، چې په ورته وخت کې به د نورو اقتصادي فعالیتونو د رامنځته کېدو سبب هم وګرځي.

د سیمنټو صنعت د هر هېواد په اقتصادي پرمختګ کې مهم رول لري، ځکه دا صنعت د بنسټیزو زېربنایي پروژو لکه سړکونو، بندونو، پلونو او ودانیو د جوړولو اساسي اړتیا برابروي. د سیمنټو تولید د کورنیو پانګونو د پیاوړتیا ترڅنګ د کارموندنې پراخ فرصتونه رامنځته کوي او د وارداتو کچه راکموي، چې دا چاره د ملي اقتصاد د ثبات سبب ګرځي. همدارنګه، د سیمنټو صنعت د اړوندو سکتورونو لکه کان‌کېندنې، ترانسپورت او ساختماني خدماتو وده چټکوي او په ټولیز ډول د اقتصادي ودې او دوامدار پرمختګ لپاره بنسټیز ارزښت لري.

د سیمنټو صنعت نه یوازې د ودانیز سکتور اساسي رکن بلل کېږي، بلکې د ملي اقتصاد لپاره یوه ستراتیژیکه سرچینه هم ده. د دې صنعت پراختیا د بنسټیزو پروژو لګښتونه راکموي، ځکه چې د کورني تولید له لارې پر وارداتي سیمنټو تکیه کمېږي او اسعار له هېواده بهر نه وځي. همدارنګه، د سیمنټو فابریکې د خامو موادو له استخراج څخه تر تولید او لېږد پورې یوه مهمه اقتصادي حلقه رامنځته کوي. په دې کې د ترانسپورټ یا انتقال برخه پیاوړې کېږي، په استخراج او پروسس کې په زیاته اندازه ماشینرۍ ته اړتیا پیدا کېږي او په دې سره په زرګونو کسانو ته مستقیم او غیرمستقیم کاري فرصتونه برابرېږي.

سربېره پر دې، د سیمنټو صنعت د دولت لپاره د عوایدو یوه مهمه سرچینه ده، ځکه چې مالیات، فیسونه او امتیازي حقونه ترې ترلاسه کېږي. دا صنعت د ښارونو او کلیو د پراختیا، د استوګنې د ستونزې د حل او د عامه خدمتونو د پراخېدو زمینه برابروي او په پایله کې د اقتصادي ثبات، ځان‌بسیاینې او د دوامداره پرمختګ لپاره مهم بنسټ جوړوي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې

د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه ابادي

هفته‌نامه آبـادی

# SPEECH BY HIS EXCELLENCY MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND AT THE CEREMONY MARKING THE COMMENCEMENT AND HANDOVER OF NINE MAJOR ELECTRICITY TRANSMISSION AND DISTRIBUTION PROJECTS IN HERAT

*In the name of Allah, the Most Gracious, the Most Merciful.*

Respected Governor of Herat Province, esteemed officials of Da Afghanistan Breshna Sherkat, representatives of various Emirate institutions, respected representatives of the private sector, Mujahideen, media representatives, distinguished guests, and all attendees:

Peace and blessings of Allah be upon you.

I am pleased to participate today in Herat Province in the inauguration ceremony of five major electricity generation projects.

First of all, on the occasion of the inauguration of these important projects, I extend my congratulations to all dear compatriots.

Electricity is a fundamental requirement for comprehensive development in the modern era. The Islamic Emirate has viewed this requirement from a strategic perspective; therefore, within a short period, we are witnessing the inauguration of numerous projects.

**Esteemed attendees;**

These projects include the construction of the Pul-e-Hashmi substation with a capacity of 80 MVA in Herat Province at an approximate cost of forty million US dollars; the construction of a new substation with a capacity of 126 MVA adjacent to the existing 24 Hooth substation; line expansion at the Noor-ul-Jihad substation; and the extension of a 220-kilovolt transmission line over a length of 78 kilometers from Noor-ul-Jihad substation to Pul-e-Hashmi substation, and from Pul-e-Hashmi substation to the 24 Hooth substation.

The implementation of these projects will be completed within approximately two years, and their financing responsibility rests with Da Afghanistan Breshna Sherkat.

I will not elaborate extensively on the technical aspects of these important projects; the relevant officials will provide detailed information. However, I would like to state that such electricity generation projects are a very serious requirement for Afghanistan's industrial and economic growth. Alhamdullilah, the Islamic Emirate of Afghanistan has taken major and noteworthy steps in this sector within a very short period.

With the completion of these projects, 24-hour electricity will be provided to industrialists and all industrial parks in Herat Province. Commercial centers, rural areas, and residential areas will also benefit from electricity.

Hundreds of direct and indirect employment opportunities will be created, the standard of living of the people will improve, national revenue will increase, and overall these projects will play a significant role in the country's economic growth.

Imported electricity has challenges and leads to the outflow of foreign currency. Therefore, with the completion of these projects, stable domestic electricity will be provided, and we will be freed from dependence on others, insh'allah.

From this platform, I inform all industrialists who invest in the construction of cold storage facilities that, on one hand, a five-year tax exemption will be granted, and on the other hand, DABS is obligated to connect and supply electricity to you under all circumstances. Domestic and foreign investors can make good use of this golden opportunity.

**Esteemed attendees;**

Since Afghanistan has long relied on imported electricity and a large portion of our national budget is spent on imported electricity, such domestic electricity generation projects can gradually reduce our dependence on foreign countries' electricity and, through optimal utilization of domestic resources, enable us to become self-sufficient in electricity. Since the re-establishment of its governance, the Islamic Emirate of Afghanistan has maintained a balanced and moderate policy with all countries of the world. Our entire focus is on Afghanistan's economic growth, security stability, and good governance. The Islamic Emirate strives for Afghanistan to become an effective participant in regional and international cooperation as an important country in the region. Therefore, we call on the countries of the world to replace restrictive policies with engagement-based policies and to view Afghanistan's current security stability as an important opportunity, so that together we may take concrete steps within the framework of the shared sustainable development goals of all countries. The international community should abandon expectations of engaging with the Islamic Emirate on the basis of values; the forty-five years of suffering and sacrifice of Afghans were for the preservation of such values. They should understand the characteristics and temperament of the Afghan people and engage accordingly. It is appropriate to express my gratitude to the respected officials of Da Afghanistan Breshna Sherkat for taking significant steps in relation to these projects and for finalizing their technical aspects.

Finally, I strongly urge the contracting companies, engineers, and all involved parties to carry out all related works on time and in accordance with accepted standards.

Peace and blessings of Allah be upon you.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| پلورل | پېرل | پولي واحد | اندازه |
|---|---|---|---|
| ؋٦٦,٢٠ | ؋٦٦,١٥ | امريکايي ډالر | ١ |
| ؋٢٢٨ | ؋٢٢٨ | پاکستانی کلداري | ١٠٠٠ |
| ؋٠,٤٦ | ؋٠,٤٥ | ايراني تومن | ١٠٠٠ |
| ؋٧٧,٥١ | ؋٧٧,٤٥ | اروپايي يورو | ١ |
| ؋٠,٨٤ | ؋٠,٨٤ | روسي روبل | ١ |

| پلورل | پېرل | پولي واحد | اندازه |
|---|---|---|---|
| ؋٧٣٤ | ؋٧٣٤ | هندی کلداري | ١٠٠٠ |
| ؋٨٩,٥١ | ؋٨٩,٤٥ | انګليسي پوند | ١ |
| ؋١٧,٦٥ | ؋١٧,٦٤ | سعودي ريال | ١ |
| ؋١٨,٠٣ | ؋١٨,٠١ | اماراتي درهم | ١ |
| ؋٩,٤٧ | ؋٩,٤٧ | چيني ين | ١ |